# د نژاد او ملیت وسیله

## WIC موږ مکلف کوي چې د نژاد او ملیت معلوماتو راپور ورکړو.

موږ دا معلومات د دې لپاره کاروو چې پوه شو WIC) Special Supplemental Nutrition Program For Women, Infants and Children، د ښځو، کوچنیانو او ماشومانو لپاره د ځانګړي تکمیلي تغذیه پروګرام) چا ته خدمت کوي.
دا ستاسې په شرایطو برابرۍ یا مهاجرت وضعیت باندې اغیزه نه کوي.

د WIC کارمندان به له تاسې دا دوه لاندې پوښتنې وکړي:

1. **آیا تاسې خپل ځان/خپل ماشوم هسپانوي یا لاتیني ګڼئ؟**
هسپانوي یا لاتیني یعني د کیوبا، مکسیکو، پورټو ریکو، سهیلي یا مرکزي امریکا، یا د کوم بل هسپانوي کلتور یا نسب لرونکی فرد، د نژاد په پام کې نیولو پرته.

هسپانوي　　　　غیر هسپانوي

2. **تاسې خپل نژاد/د خپل ماشوم نژاد څنګه شرح کوئ؟**
ټول هغه چې تاسې/ستاسې ماشوم پورې اړوند وي په نښه کړئ.

| | |
|---|---|
| **سور پوستي امریکایي یا بومي الاسکایی** | د الاسکا، کاناډا، د امریکا متحده آیالاتو، مکسیکو، مرکزي یا سهیلي امریکا بومي خلکو له نسب څخه او د قومي تړاو یا د ټولنې سره د ارتباط او تړاو ساتل |
| **اسیایي** | د لیرې ختیځ، سهیل ختیځې آسیا، یا هند نیمه وچې پشمول بومي خلکو له نسب څخه، د مثال په توګه کمبوډیا، چین، هند، جاپان، کوریا، مالیزیا، پاکستان، د فلپین ټاپوګان، تایلینډ او ویتنام. |
| **تور یا افریقایی امریکایی** | د افریقا تورو نژادي ډلو له نسب څخه |
| **سپین** | د اروپا، مینځنې ختیځ یا شمالي امریکا د خلکو له نسب څخه. |
| **د هوایی یا پاسفیک ټاپو بومي اوسیدونکی** | د هوایی، ګوام، ساموا، یا د پاسفیک ټاپو نورو اوسیدونکو له نسب څخه. |

**د واشنګټن WIC تبعیض نه کوي.**

د فدرال مدني قانون او د USDA) U.S. Department of Agriculture، د متحده آیالتونو د کرنې وزارت) د مدني حقونو د مقرراتو او پالیسیو سره سم، دا سازمان د نژاد، رنګ، ملي هویت، جنسیت (د جنسیت د ډول او جنسي تمایل په ګډون)، معلولیت، سن او د مدني حقونو په برخه کې د پخوانیو فعالیتونو له کبله انتقام او یا د متقابل عمل ترسره کول په کلکه منع کړي دي.

ښایي د پروګرام معلومات له انګلیسي ژبې پرته په نورو ژبو هم د لاسرسي وړ وي. معیوبیت لرونکي افراد چې د پروګرام معلوماتو ترلاسه کولو لپاره د ارتباط بدیل لارو چارو ته اړتیا لري (لکه بریل، غټ چاپ، غږیز ټیپ، امریکایی اشارو ژبه)، هغوی باید مسؤل ایالت یا ځایی ادارې سره اړیکه ونیسي چې پروګرام مدیریت کوي یا هم د USDA د TARGET Center (Technology & Accessible Resources Give Employment Today، ټیکنالوژي او د لاسرسي وړ سرچینې نن ورځ استخدام ورکوي مرکز) سره په 720-2600 (202) (غږیز او TTY) یا USDA سره د Federal Relay Service له لارې په 877-8339 (800) اړیکه ونیسئ.

د پروګرام په اړه د شکایت د ثبتولو لپاره، Form AD-3027, USDA Program Discrimination Complaint Form (شکایت کوونکی باید AD-3027 فورم ډک کړي)، د پروګرام د تبعیض څخه د شکایت فورم کولای شئ په آنلاین ډول له دې لینک: https://www.usda.gov/sites/default/files/documents/USDA-OASCR%20P-Complaint-Form-0508-0002-508-11-28-17Fax2Mail.pdf (په انګلیسي)، د USDA له هر دفتر څخه، 9992-632 (866) شمیرې ته په زنګ وهلو سره او یا USDA ته د یوه لیک په استولو سره ترلاسه کړئ. په لیک کې باید د شکایت کونکي نوم، پته، د تلیفون شمیره، او د ادعا شوي تبعیضي عمل لیکلي شرح د کافي تفصیلاتو سره شامل وي ترڅو د ادعا شوي مدني حقونو څخه سرغړونې د څرنګوالي او نیټې په اړه Assistant Secretary for Civil Rights (ASCR، د مدني حقونو مرستیال سیکرټر) خبر شي. د AD-3027 بشپړه شوې فورمه یا لیک باید USDA ته د لاندې لارو له لارې وسپارل شي:

1. **د پسټ له لارې:**
U.S. Department of Agriculture
Office of the Assistant Secretary for Civil Rights
Independence Avenue, SW 1400
Washington, D.C. 20250-9410؛ یا
2. **فکس:**
256-1665 (833) یا 690-7442 (202)؛ یا
3. **بریښنالیک**
**program.intake@usda.gov**

Washington State Department of Health

دا اداره د مساوي فرصتونو برابرونکې ده.
د واشنګټن WIC تبعیض نه کوي.

PUBLIC HEALTH
ALWAYS WORKING FOR A SAFER AND HEALTHIER WASHINGTON